بسم الله الرحمن الرحیم

# تقریظ

## فضیلتمآب مولوي عبدالحکیم منیب د ارشاد، حج او اوقافو وزیر

الحمد لله  الذی من علینا بالایمان و الصحة والعافیة والصلاة والسلام علی سیدنا محمد مصطفی وعلی آله و اصحابه اجمعین.

لکه څرنګه چې ټولو ته څرګنده ده، د تاریخ په دې شېبو کې د کرونا ویروس چې د (COVID-۱۹) په نامه یادیږي، دا یو خطرناک او وژونکی ویروس دی او د خلکو په منځ کې خپور شوی دی؛ چې له بده مرغه په ډېرې چټکتیا سره د خپرېدو په حال کې ده او ټوله نړۍ یې له ګواښ سره مخ کړې. نړیوال روغتیایي سازمان دا ویروس یو نړیوال وبائي مرض په ګوته کړی دی؛ چې د نړۍ اکثره هېوادونو کې خپور شوی او نړیوال بشریت یې د غم په تغر کېنولي دی، دغه ویروس په یوه ورځ کې سلګونه کسان د مرګ کومي ته ور اچوي؛ په ډېر خواشني سره چې دغه ډارونکی او وژونکی مرض زمونږ هېواد ته هم رسېدلي دی او د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو په اساس تردې دمه ډېر خلک په دې مرض اخته شوي دي او یو تعداد کسانو ددې مرض له امله خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړی دی.

په همدې اساس د ارشاد، حج او اوقافو وزارت ددیني لیدلوري له مخې د وباء په اړه د عامه پوهاوي لازمي لارښوونې او ددې مرض د مخنیوي په موخه شرعي فتوی صادره کړه؛ همدا راز د عامې روغتیا محترم وزارت له صحي اړخه ددې مرض د مخنیوی په هدف په دې مورد کې لازم وقایوي تدابیر محسوس او لازم اقدامات ترسره کړي دي؛ ترڅو ددې خطرناک او صعب العلاج مرض؛ چې اکثره خلک یې په وارخطائي کې اچولي دي. ددې له پاره چې ددغه ویروس د سرایت او نورو ته د خپرېدو مخه ونیول شي؛ په دې برخه کې د لوستونکو توجه څو مهمو ټکوته را اړوم:

لومړی: ډاکټرانو او طبیبانو ددې مزمن او ساري مرض د مخنیوي په موخه اړیني او لازمي روغتیائي لارښوونې او سپارښتنې؛ لکه: ( د مصافحې څخه ځان ساتل، په خپلو منځو کې د روغبړ پر وخت د معانقې څخه ځان ساتل، پرته له ضرورته د تګ راتګ

ځخه ځان ساتل، د کنفرانسونو، محفلونو، سیمینارونو او د هرډول تجمعاتو او راجمع کېدو څخه ممانعت او ځان ساتل، د تعلیمي، تحصیلي او ښوونیزو مرکزونو تعطیلول او بندول، د ټولو تفریحي پارکونو بندول، په ګرځیدو بندیز او خلک په خپلو کورونو کې قرنطین کول، پرته له هغو دوکانونو او مغازو چې اولیه خوراکي او صحي توکي عرضه کوي د نورو ټولو دوکانو او مارکیټونو تړل) تجویز خلکو او دولت ته وړاندي کړ.

همدا راز د ماسک او دستکشو څخه استفاده کول، د مکروب ضد دوایانو پاشل او د لاسونو په مکرر ډول په یوه ورځ کې څو ځله د ۱۵څخه تر ۲۰ ثانیو پورې په ګرمو اوبو او صابون پرېمینځل، خپل شخصي حفظ الصحي او نظافت ته جدي پاملرنه کول؛ دا ټول هغه موارد دي چې طبی ډاکترانو او د طبي نړۍ متخصصینو له خوا د کرونا (COVID-۱۹) وژونکي مرض د مخنیوي او په مقابل کې یې د ځان وقایه کولو لپاره اړین او ضروري ګڼلي دي.

بناءً پکار ده، چې زمونږ ګران هېوادوال د کرونا(COVID-۱۹) ویروس جدي وګڼي، او د درنو ډاکترانو او متخصصینو لارښوونو او سپارښتنو ته غوږ ونیسي او حتی المقدور پورتنیو سپارښتنو ته د توجه ترڅنګ پر ځان یې عملي کړي او په دې کار سره خپله ایماني او وجداني دنده ترسره کړي.

دوهم: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت چې ددیني سکتور په برخه کې په هېواد کې ډیر مهم، کلیدي او رهبري ارکان دی. د ددې ویروس سره د مبارزې په برخه کې په فوق العاده ګام اخیستو سره پورتني اقدامات تائید او وستایل؛ ترڅنګ یې له دیني اړخه د دې مرض څخه د مخنیوي په برخه کې د خلکو د پوهاوي او د عامه اذهانو د تنویر په هدف په مسجدونو، حسینیه ؤ او تکایاؤ کې د منبر له لارې د جمعې خطبې ایراد کړل شوي . د کرونا ویروس سره د مبارزې او ددې مرض خپرېدو د مخنیوي په هدف په مرکز او (۳۴) ولایتونو کې ځانګړې کمیټې ایجاد او رامنځته کړای شوې، خلکو ته د پیغام رسولو لپاره مطبوعاتي کنفرانسونه دائر شول، د کرونا ویروس په اړه د نړۍ دعلماؤ له خوا د صادر شوو شرعي فتواګانو استقبال وشو، د کرونا مرض په اړه دعامه پوهاوی په موخه او ددغو لاندې مطرح شوو سوالونو ته د ځواب په غرض د قرآني آیتونو، نبوي آحادیثو، د صحابه کرامو د زرینو اقوالو، د دین د امامانو او مجتهدینو د ویناؤ په رڼا کې د وزارت له ادرس څخه په پوره متانت او قوت سره شرعي فتوی صادروي؛ چې هغه سوالونه په لاندې ډول دي:

**۱- د کرونا(COVID-۱۹) په ځېر ناروغیو په مقابل کې د وقایوي تدابیرو پلې کولو شرعي حکم.**
**۲- د کرونا په مرض د اخته کېدو او خپرېدو له وېرې د جماعت اوجمعې لمونځونو د پرېښودلو حکم.**
**۳- دکرونا په مرض د اخته کېدو او خپرېدو له وېرې د لمانځه پر وخت د صـــفونو ترمنځ د فاصلې د ایجادولو حکم.**
**۴- د هغه کسانو د غسل، تکفین، د جنازې لمونځ او تدفین حکم چې د کرونا مرض له امله مړه شوي وي.**

تر څو ددې شـــرعي فتوی په رڼا کې زمونږ ګران هېوادوال وکولای شـــي چې دا حســـاس او بحراني حالت په ښـــه توګه درک کړي. د خپلو نېکو او صـــالح اعمالو د ترسـره کولو ترڅنګ خپل دیني او ټولنیز وجائب پرته له افراط اوتفریط څخه په سـمه توګه ترسـره کړي؛ خپل ځانونه مأجور، مونږ ممنون او ملت ته له دې مصـیبت څخه د اخته کېدو څخه خلاصون ور په برخه کړي.

په پای کې ځای لري چې د مؤظفي کمیټې له محترمو غړو هریو:
۱-دوکتور سیدحجت الله (نجیح) د مجمع علمي رئیس.
۲-مولوي فضل الکریم (سراجي) د مساجدو د چارو او انسجام رئیس.
۳-مولوي محمد آصف (مصباح) د تکایاؤ او حسینیه ؤ رئیس.
۴-استاد محمد شریف ( رباطي) د تدقیق او اسلامي مطالعاتو رئیس.
۵-استاد فضل محمد (حسیني) د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس.

چې د دوی په رأس کې د هېواد پیاوړی دیني عالم او ستر شـخصـیت دوکتور امین الدین مظفري ددې وزارت مسـلکي معین شـتون لري ورڅخه مننه وکړم؛ همدا راز ددې وزارت د مجمع علمي رئیس ښـاغلي دوکتور سـید حجت الله نجیح څخه چې دا فتوی یې په ډېر رعایت او فطانت سـره ترتیب او صـادره کړې ده ځانګړې مننه او قدرداني کوم.

**مولوي عبدالحکیم منیب**
**د ارشاد، حج او اوقافو سرپرست وزیر**
**شهرنو- کابل**

# د کرونا (COVID-۱۹) ویروس څخه د ځان ژغورنې او د هغه د خپرېدو د مخنیوي په اړه شرعي فتوی

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی رسوله الکریم وعلی آله وأصحابه أجمعین.

قال الله تعالی: ﴿ فَسۡـَٔلُوٓاْ أَهۡلَ ٱلذِّكۡرِ إِن كُنتُمۡ لَا تَعۡلَمُونَ ﴾ [النحل: ٤٣].

**ژباړه:** له با خبرو خلکو نه پوښتنه وکړئ که تاسې په خپله نه پوهیږئ.

عَنْ جَابِرٍ ﷺ قَالَ: {خَرَجْنَا فِي سَفَرٍ فَأَصَابَ رَجُلاً مِنَّا حَجَرٌ فَشَجَّهُ فِي رَأْسِهِ ثُمَّ احْتَلَمَ فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ فَقَالَ هَلْ تَجِدُونَ لِي رُخْصَةً فِي التَّيَمُّمِ فَقَالُوا مَا نَجِدُ لَكَ رُخْصَةً وَأَنْتَ تَقْدِرُ عَلَى الْمَاءِ فَاغْتَسَلَ فَمَاتَ فَلَمَّا قَدِمْنَا عَلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– أُخْبِرَ بِذَلِكَ فَقَالَ «قَتَلُوهُ قَتَلَهُمُ اللَّهُ أَلاَّ سَأَلُوا إِذْ لَمْ يَعْلَمُوا فَإِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَالُ إِنَّمَا كَانَ يَكْفِيهِ أَنْ يَتَيَمَّمَ وَيَعْصِرَ». أَوْ « يَعْصِبَ ». شَكَّ مُوسَى « عَلَى جُرْحِهِ خِرْقَةً ثُمَّ يَمْسَحَ عَلَيْهَا وَيَغْسِلَ سَائِرَ جَسَدِهِ}.

[سنن أبی داود: کتاب الطهارة، باب فی المجروح یتیمم].

**ژباړه:** له جابر ﷺ څخه روایت دی، وایي: موږ په یوه سفر ووتلو او زموږ له ملګرو نه یو سړی په تیږه ولګېد او په سر یې زخمي کړ، بیا ورته احتلام پېښ شو او له ملګرو نه یې د هغې په هکله پوښتنه وکړه او ورته ویې ویل: ایا تاسو زما لپاره د تیمم کولو رخصت وینئ؟ هغوی وویل: داچې تاسو په اوبو برلاسی یاست، نو موږ ستا لپاره څخه رخصت نه وینو، بیا هغه غسل وکړ او مړ شو، نو کله چې موږ نبي کریم ﷺ ته راغلو، چا له دې قیصې نه خبر ورکړ، هغه وفرمایل: هغه یې وواژه، الله تعالی د دوی ووژني (دا خبره یې د زجر او غندلو په خاطر ورته وکړه) چې نه پوهېدل ولې یې پوښتنه نه کوله، ځکه د جهل او ناپوهۍ شفاء پوښتنه ده، دده لپاره همدې بسنه کوله چې تیمم او پر پټۍ یې مسح کړې وی او یا به یې هغه ځای په یوه ټوټه تړلی ؤ، بیا به یې مسح ورباندې کړې وه او نور بدن به یې مینځلی ؤ.

لکه څرنګه چې لیدل کیږي په دې ورځو کې د کرونا (COVID-۱۹) ویروس په شکل یو لوی مصیبت او وباء چې ددنیا په زیاتو هیوادونو کې خپره شوې او ګڼ شمېر ځاني او مالي زیانونه او تاوانونه له ځانه سره لري او د هغه د خورېدو لاملونو او علتونو د انسانانو د نه پاملرنې پر اساس؛ ددې مرض خپرېدل ورځ تر بلې مخ پر زیاتېدو دی او په ډېرو تولنو کې یې د ژوندانه مختلفي چارې له بې نظمی او

ګډوډۍ سره مخ کړې دي، چې زموږ ګران هېواد افغانستان هم ورڅخه مستثنی نه دی.

د طبابت د متخصصينو د تعبير او وينا پر اساس کرونا يو ډول ساري ناروغي ده، چې د ډاکترانو د ځېړنې پر بنسټ ددې ناروغۍ د واقع کېدو ډېرې پېښې د پزې او خولې له لارې له يوه شخص څخه بل شخص ته يعنې د مبتلا شوي سړي سره د تماس په صورت کې او يا داچې روغ سړی له هغو شيانو سره تماس وکړي چې پردې مرض مبتلا شوی انسان ورسره لګېدلی وي، سرايت کوي او انتقالېږي، همدا ډول پردې مرض مبتلا شخص ته د ورنږدې کېدو او د لازم واټن او مناسبې وقايې په نه رعايت کولو سره ددې مرض انتقال روغو انسانانو ته په جدي توګه شونی دی، نو پر دې اساس په دې هکله د شرعي حکم د لاس ته راوړلو په موخه له مختلفو رسمي او غير رسمي مراجعو څخه دې ادارې ته د لاندې مواردو په هکله استفتاء يا فتوی غوښتنې مطرح شوې دي:

**۱- د کرونا (COVID-۱۹) مرض څخه د وقايې او ځان ژغورنې په موخه د وقايوي تدابيرو حکم.**
**۲- د کرونا په ويروس د اخته کېدو له وېرې د جماعت اوجمعې لمونځونو پرېښودلو حکم.**
**۳- د کرونا په ويروس د اخته کېدو له وېرې د لمانځه پر وخت د صفونو ترمنځ د فاصلې رامنځ ته کولو حکم.**
**۴- د هغو کسانو د غسل، تکفين، د جنازې د لمانځه او تدفين د څرنګوالي حکم چې د کرونا مرض له امله مړه شوي وي.**

مخکې له دې چې د پورتنيو پوښتنو ځواب پيل کړم؛ اړينه ده لاندې څو خبرو ته توجه واړول شي:

۱. په لومړي قدم کې بايد يادونه وکړم چې د شرعي نصوصو په رڼا کې ټول علماء او پوهان په دې خبره اتفاق لري چې د نفس حفاظت د اسلامي شريعت له مقاصدو څخه دی.

همدارنګه داچې نفس او د بدن غړي له انسان سره يو الهي امانت دي، نو شرعا هغه د خپل نفس او د بدن د غړو په پوره حفاظت او ساتنې مکلف دی.

بناء په نفس باندې هر ډول ظلم او زیاتی، یا د بدن پر غړو او اندامونو باندې تجاوز او یا د هغو په وړاندې بې پرواهي شرعا ناروا کار دی او ددې کړنو مرتکب ګنهګار ګڼل کیږي.

د اسلام دین د یسر او آسانتیا دین دی او په هغه کې هیڅ ډول مشقت او سختي ځای نلري، لکه څنګه چې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایلي دي:

﴿ يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ . (البقرة ۱۸۵)

**ژباړه :** الله تعالی پرتاسې آسانتیا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي

همدارنګه فرمایي:﴿ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ (الحج ۷۸).

**ژباړه:** او په دین کښې یې پر تاسې څه تنګي نده راوستې

او رسول الله ﷺفرمایلي دي:

{ إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ، وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ، فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا...}.(رواه البخاري)

**ژباړه:** یقینا دین یسر او آساني ده او هیڅوک د دیني مسایلو په هکله تعمق او سخت ګیري نشـــي کولای؛ مګر داچې دین به وربانديې غالب کیږي، نو دیني احکام په کامله توګه اداء کوئ او کـه چیرې یې په کامله توګه نشــــي اداء کولی، کامل عمل ته نږدې والی کوی.

همدا وجه ده چې په اسلامي شریعت کې د عزیمت تر څنګ رخصت هم شتون لري، چې په ځانګړو صورتونو کې عمل کول وربانديې همداسې مطلوب دي لکه څنګه چې په عزیمت باندې مطلوب دي، او په احادیثو کې راغلي دي:

{ عن ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ كَمَا يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى عَزَائِمُهُ }. (صحیح ابن حبان ج ۲ ص ۶۹)

**ژباړه:** لـه ابن عباس رضي الله عنه څخـه روایت دی، وایي نبی کریم ﷺفرمایلي دي: الله تعالی خوښـوی چې په رخصـتونو یې عمل وشـي، لکه څنګه چې په خپلو عزیمتونو عمل کول خوښوي.

{ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: انَّ اللَّهَ يُحِبُّ أَنْ تُؤْتَى رُخَصُهُ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ تُؤْتَى مَعْصِيَتُهُ }. (صحیح ابن حبان ج ۶ ص ۴۵۱)

**ژباړه:** لـه ابن عمر ﷺخخه روايت دی، هغه له رســـول الله ﷺخخه روايت کوي، وايي: الله تعالی خوښــوي چې په رخصـــتونو باندې عمل وشـــي، لکه څنګه چې يې د معصيت ترسره کول بد بولي.

۳-د مرضـــونو راخرګندېدل او يا د هغو خپرېدل په ځانګړي ډول وباګاني؛ يو ډول مصـيبتونه او ازميښـتونه دي ډيری وخت د ځينو انســانانو د ناوړه اعمالو او کړنو له امله رامنځ ته کيږي، ترڅو انسانان په خپلو ويناوو او کړوړو کې مثبته کتنه وکړي او د الله تعالی لوري ته متوجه شي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ ﴾. **(شوري ۳۰)**

**ژباړه:** پرتاسـي چې هر مصـيبت راغلې دی، سـتاسـي د خپلو لاسـونو له عملونو نه راغلی دي. اوله ډيرو ګناهونو څخه هغه همداسي تيريږي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿ ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴾ . **(الروم۴۱)**

**ژباړه:** په وچه او لمده کښې فساد برپا شوی دی د خلکو د خپلو لاسنو په عملونو سره ترڅو چې پـه هغو بـانـدې د هغو د ځينو عملونو خونـد وڅکي، ښـــايي چې هغوی راوګرځې.

۴- وباګاني، ازميښـــتونه او فتنې چې کله رامنځ ته کيږي، نو بيا ټول شـــموله وي او کولای شــي کافر او مسـلمان، ظالم او عادل، نيک او بد، سـړي او ښـځې، ځوانو او زوړو ټولو ته ورسيږي او دوی ټول يوشان په دې دنيا کې متضرره کړي.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ﴾ **(انفال ۲۵)**

**ژباړه:** او لـه هغې فتنې څخـه ځان وژغورئ چې د هغې نـاوړه اغیزه بـه پـه ځانګړې توګه یوازې په هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شـي چې په تاې کښـې چا ګناه کړې وي. او وچوهېږئ چې الله سخت سزا ورکونکی دی.

۵- په مرضـونو او رنځونو باندې مبتلا کېدل او یا په نورو مصـیبتونو اخته کېدل د صـبرکوونکو مؤمنانو لپاره د ګناهونو د ړیږېدنې او په آخرت کې د هغوی د مرتبو د لوړېدلو سـبب ګرځي او ان داچې په ځېنو مرضـونو باندې د مړه کېدو په صـورت کې په ځانګړې ډول په سـارې ناروغیو باندې وفات کېدل؛ صـبرکوونکو مؤمنانو ته د شهادت درجې ته د رسېدلو لامل ګرځي.

لکه څنګه چې رسول الله ﷺد حضرت عائشې – رضی الله عنها – د پوښتنې په ځواب کې وفرمایل: {عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْنَا: أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ، فَأَخْبَرَهَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ، فَجَعَلَهُ اللَّهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ، فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ، فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا، يَعْلَمُ أَنَّهُ لَنْ يُصِيبَهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ، إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ»} {رواه البخاری}

**ژباړه:** له ام المؤمنین عائشـــې رضـــی الله عنها څخه روایت دی، هغې موږ ته خبر راکړ چې لـه رســـول الله ﷺڅخه یې د طاعون په هکله پوښـــتنه وکړه، بیا نبي کریم ﷺورتـه خبر ورکړ چې دا یو عـذاب ؤ چې الله تعـالی بـه هغـه چـاتـه لیږه چې ده بـه خوښـــه وه، بیا الله تعالی د مؤمنانو لپاره رحمت وګرځاوه، نو هیڅ داســي بنده نشــته چې طاعون مرض ولګیږي او دی په خپل ښـار کې صبر کوونکی پاتې شي او پردې وپوهیږي چې ده ته له هغه څه پرته چې الله تعالی ورته لیکلي وي بل څه نه رسیږي، مګر داچې ده لره به د شهید په څېر اجر وي.

۶- روغتیا د انســـان لپاره د الله تعالی له لویو نعمتونو څخه ده، چې په شــریعت کې د هغې په غنیمت شـمېرلو، له هغې څخه د سـالمې استفادې ترلاسـه کولو او د هغې په ساتلو او حفاظت باندې ټینګار شوی دی، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

{ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ( نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالفَرَاغُ) }.( صحیح البخاري)

**ژباړه:** لـه ابن عبـاس رضـــى الله عنهمـا څخه روايت دی، وايي نبي کريم ﷺفرمايلي دي: دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک پکې تاواني دي: روغتيا او فراغت يا وزرګاروالی دي.

همدارنګه په بل حديث کې راغلي دي: {عَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُــولُ اللهِ ﷺ، اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ}. (السنن الكبرى للنسائي ج ١٠ ص ٤٠٠)

**ژباړه:** له عمرو بن ميمون رضي الله عنهڅخه روايت دی، وايي رسول الله ﷺوفرمايل يوه سړي ته چې وعظ يې ورته کاوه وفرمايل: پنځه شـيان له پنځو شـيانو څخه مخکې غنيمت وګڼه: ځواني دې له زړتوب مخکې، صـــحت دې له مرض مخکې، بډای والی دې له غريبی مخکې، فراغت يا وزرګاروالی دې له مشـــغولتيا مخکې او ژوند دې له مرګ مخکې.

نو پرته له شـکه د هغو مواردو له جملې څخه چې بايد روغتيا پکې غنيمت وګڼل شـي او ورڅخه ســالمه او معقوله اســتفاده وشـــي داده چې د ناروغيو په وړاندې له خپلې روغتيا څخه ســمه ســاتنه وشـــي. او دا هغه څه دي چې د پورتنيو او نورو شــرعي نصوصو په رڼا کې انسان پر هغې مکلف دی.

٧-د قرآن کريم آيتونو او د پيغمبر ﷺپه ارزښـتمنو احاديثو کې پردې صـراحت شـوی دی چې هېڅ کار د الله تعالی له ارادې او مشيت پرته نه رامنځ ته کيږي او نه رامنځ ته کېدونکی دی او هر هغه څه چې انســـان ته رســـيږي او يا نه رســـيږي؛ د الهي مقدراتو يوه برخه ده او د الله تعالی په اذن او مشيت سره ترسره کيږي. او دا مسئله د مسلمانانو د هغو مؤمَن به مسايلو څخه ده چې ايمان لرل پرې واجب دي.

الله تعـالی فرمـايلي دي: ﴿ قُل لَّن يُصِـــيبَنَآ إِلَّا مَا كَتَبَ ٱللَّهُ لَنَا هُوَ مَوۡلَىٰنَاۚ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلۡيَتَوَكَّلِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ﴾ (التوبه٥١).

**ژباړه:** دوی ته ووايه مونږ ته هېڅکله څه (ضـرر يا ښـېګڼه) نه رسيږي مګر هغه چې الله راتـه ليکلي دي همـاغه الله زمونږ مولا دی او مؤمنـان بـايد پـه همـاغه توکل وکړي.

په همدې اساس د اړینو (مادي او معنوي) جدي وقایوي تدابیرو نیولو ترڅنګ په پوره یقین ســره په الله تعالی توکل او په هغه نېک ګمان ســاتل په کار دي، ترڅو وکولای شــو په دې کړنې ســره په دې هکله د الله تعالی حکم پرځای او خپل مورال او د بدن مقاومت د دې ویروس په وړاندې په دوامداره توګه پیاوړی او غښتلی کړو.

۸- لکه څنګه چې مخکې وویل شول: د نفس ساتل د اسلامي شریعت له مقاصدو څخه دي، نو پر همدې اساس اسلامي شریعت انسان په مختلفو برخو کې پر وقایوي تدابیرو مکلف کړی او د اړینو وقایوي تدابیرو په نظر کې نیولو سره سره یې بیا پر الله تعالی پر توکل کولو مکلف کړی دی، نو د وقایوي تدابیرو غوره کول هېڅکله پر الله تعالی د توکل ســره په ټکر کې نه بلل کیږي؛ بلکې دا د توکل لومړنی مرحله ده چې باید په جدي توګه مراعات شــي. او کولای شــو دا خبره ددې مبارک آیت له عمومي مفهوم څخه ترلاسه کړو:

الله تعالی فرمایي: ﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا خُذُوا حِذْرَكُمْ ﴾ **(النساء ٧١)**

**ژباړه: ای مؤمنانو !**هر وخت د مقابلې له پاره چمتو اوسئ.

همدارنګه لاندینی حدیث هم په دې اړه صراحت لري:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: ((جَاءَ رَجُلٌ عَلَى نَاقَةٍ لَهُ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَدَعُهَا وَأَتَوَكَّلُ؟ فَقَالَ: اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ)) [ شعب الإيمان جلد: ٢صفحه: ٤٢٨، سنن الترمذي جلد: ٤صفحه: ٦٦٨].

**ژباړه:** له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی، فرمایي: یو شخص په خپله اوښــه ســپور راغی او ویې ویل: اې د الله رســوله! اوښــه پرېږدم او توکل وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ویې تړه او بیا توکل وکړه.

۹- وقـایـه او ځـان ژغورنـه پـه دوه ډولـه ده، کولای شـــو یو ډول یې مـادي یـا ظـاهري وقـایـه او بل ډول یې معنوي او یا باطني وقایه وبولو چې لومړنی ډول یې د هغو طبي لارښــوونو له مراعاتولو څخه عبارت ده چې په دوامداره توګه په ټولنیزو صفحو کې له خلکو سره شریکیږي.

او دوهم ډول یې د هغه ټولو دیني تعلیماتو او لارښـــونو عملي کول دي چې په داســې مواردو کې د هغو ســپارښــتنه شــوې ده، چې هغه د ګناهونو پرېښــودل، توبه او اســتغفار کول، الله تعالی ته رجوع، د ځینو ســورتونو او آیتونو تلاوت

کول، د مأثوره دعاګانو لوستل، دصدقو او خیراتونو ورکول، د اړو کسانو لاس نیوی، په خیریه کارونو کې له بل چا څخه سبقت او وړاندې والی او له احتکار څخه ځان ژغورل او د هغه مخه نیول دي، لکه څنګه چې ډېر آیتونه او احادیث په دې هکله صراحت لري.

۱۰- وېره او مرض دواړه هغه علتونه دي چې ددیني نصوصو په صراحت او د هغو په رڼا کې په ډېرو شـــرعي احکامو کې د تخفیف لامل ګرځي او ډېرې بیلګې لري چې له علماوو څخه پټې نه دي.

۱۱- د شـرعي نصـوصـو په رڼا کې له شـک او تردید پرته ویلای شـو چې د ضـــرورت په ځایونو کې د اړتیا په اندازه د مکروه، حرام، مباح ، واجب او یا فرضـــو پرېښـــودل جائز او روا کیږي چې په دې اړه مشـــهوره فقهي قاعده (( الضـــرورات تبیح المحظورات)) یعنې ضـــرورتونه ممنوع شـــیان مباح ګرځوي، صـــراحت کوي. او په شـــرعي احکامو کې یې بې شـــمېره بیلګې تر ســـترګو کیږي. البته ضرورت؛ خپل تعریف، اندازه او ځانګړي شرطونه لري.

## ۱- د کرونا (covid-۱۹) په څېر ناروغيو په وړاندې د وقايوي تدابيرو نيولو شرعي حکم.

لکه څنګه چې وويل شول د نفس حفاظت د شريعت له مقاصدو څخه دی او ساتنه يې پر انسان فرض ده، نو د خطر د شتون په صورت کې او يا په غالب ګمان د هغه د رامنځ ته کېدو د احتمال په صورت کې؛ وقايوي تدابير نيول او يا د داسې چارو په نظر کې نيول چې د اسبابو په عالَم کې د انسان نفس د مرګ له خطر څخه لرې وساتي، پر انسان واجب دي او پرېښودل يې د ګناه موجب ګرځي؛ ځکه مشهوره فقهي قاعده ده چې وايي:

(( ما لا يتم الواجب إلا به فهو واجب )) يعنې هر هغه څه چې پرته له هغه واجب نه ترسره کيږي؛ هغه هم واجب دي.

او په دې برخو کې پر واقعيت ولاړ او د مسلکي اشخاصو نظر او لیدلوری چې په خپل مسلک کې متخصص، مخلص او ديندار وي؛ کاملا د اعتبار وړ دی. او په دې هکله همدوی اهل ذکر ( اهل علم ) دي.

د کرونا ويروس مسئله چې کله متخصصو، مخلصو او ژمنو طبيبانو خطرناکه او هلاک کوونکې وګڼله او په واقعيت کې هم همداسې ثابته شوې ده، نو د هغه په واندې هر ډول سترګې پټول او د هغه په هکله د متخصصينو طبيبانو لارښوونو ته لازمه پاملرنه نه کول؛ په حقيقت کې خپل نفس په هلاکت کې اچولو سره برابر دی چې قرآن کريم په صراحت سره له هغې څخه منع کړې ده. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ **( البقرة ۱۹۵)**

**ژباړه:** او خپل ځانونه په خپل لاس سره هلاکت ته مه اچوئ، نيکي کوئ بيشکه الله تعالی نيکي کوونکي خوښوي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي:﴿ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ **(النساء ۲۹)**

**ژباړه:** او خپل ځانونه مه وژنئ بې‌شکه الله تعالی پر تاسو مهربانه دی.

سره له دې چې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې په عامه توګه د تدابيرو او اسبابو په خپلولو باندې ډېر ټينګار شوی، چې د هغې لاندې د مرضونو په وړاندې د طبي وقايوي تدابيرو نيول هم شامل دي، له دې سره سره د ساري ناروغيو په وړاندې د وقايې او ځان ساتلو په هکله د رسول الله ﷺ قولي او فعلي احاديث، د صحابه کرامو ويناوې او د دين د فقهاوو اقوال هم موجود دي، چې دا ټول د نفس د ساتلو په هدف د وقايوي تدابيرو پر لزوم ټينګار کوي. لکه څنګه چې د صحيح مسلم په يوه حديث کې له رسول الله ﷺ څخه نقل شوي دي چې هغه په جذام مرض اخته شخص چې د بني ثقيف قبيلې په وفد کې ؤ او ټول له پيغمبر ﷺ سره د بيعت کولو لپاره راغلي وو، خپل حضور ته ونه منلو او هغه ته يې پيغام ولېږه چې ستاسو بيعت ومنل شو او تاسو بېرته وګرځئ.

((كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ)).[صحيح مسلم جلد: ٤صفحه: ١٧٥٢]

**ژباړه:** د ثقيف قبيلې په وفد کې يو سړی په جذام مرض اخته ؤ، نو رسول الله ﷺ ورته خبر ولېږه چې موږ له تا سره بيعت کړی او تاسو بېرته خپل ځای ته وګرځئ.
او په يوه بل حديث کې رسول الله ﷺ په صراحت سره فرمايلي دي:

(( لَا يُورِدُ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ)) [صحيح مسلم جلد: ٤ صفحه: ١٧٤٣].

**ژباړه:** ناروغ شخص دې پر روغ شخص باندې نه ورننوځي.
او په يوه بل حديث کې له رسول الله ﷺ نقل شوي دي: کله چې تاسو په کومه ځمکه او يا په کوم ځای کې د طاعون د شتون په اړه معلومات ترلاسه کړل، نو بيا هلته مه ورځئ او که چيرې تاسو هلته موجود وی، نو بيا ورڅخه مه وځئ.

((قال عَبْدُ الرَّحْمنِ بْنُ عَوْفٍ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم، يَقُولُ: إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ فَلاَ تَقْدَمُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلاَ تَخْرُجُوا فِرَارًا مِنْهُ)). [الجمع بين الصحيحين جلد: اول صفحه: ٨٨]

**ژباړه:** عبد الرحمن بن عوف وايي: له رسول ﷺ څخه مې واورېدل فرمايل يې: کله چې تاسو په کومه ځمکه باندې له طاعون مرض څخه خبر شوی، نو هلته مه ځئ، او که چيرې په هغه ځمکه کې راپيدا شو چې تاسو پکې وی، نو بيا له هغې نه مه وځئ او مه ترينه تېښته کوئ.

پرته له شکه دا هغه څه دي چې نن ورځ خلک ورنه د (قرنطين) يا روغتيايي ګوښه ناستي په نوم يادونه کوي، چې د اسلام په مبارک دين کې څوارلس سوه کاله مخکې په دې هکله دستور ورکړل شوی ؤ او په خاصو وختونو کې عملي شوی هم ؤ.

او په یوه بل روایت کې راځي:
((كَلِّمِ المَجْذُومَ وَبَيْنَكَ وَبَيْنَهُ قِيدُ رُمْحٍ أَوْ رُمْحَيْنِ)) [كنز العمال جلد: ١٠/ ٥٤، عمدة القاري ٢١/٢٤٧].
یعني له هغه چا سره چې په جذام (یو ډول ساري ناروغي ده) مرض اخته وي داسې خبرې وکړئ چې ستاسو او د هغه تر منځ یوه نېزه یا دوه نېزې فاصله وي.
او په همدې مورد کې یو بل حدیث هم روایت شوی چې داسې صراحت کوي:
((اتَّقُوا المجْذُومَ كما يُتَّقى الأسَدُ)) [عمدة القاري ٢١/ ٢٤٧].
**ژباړه:** په جذام ناروغی له اخته شوي انسان څخه داسې ځان وساتئ لکه له زمري حیوان څخه چې ځوک ځان ساتي.

کله چې د مسلمانانو د دوهم خلیفه عمر فاروق ﷺ په زمانه کې د عمواس په نامه په شام کې وباء خپره شوه او د مسلمانانو دوهم خلیفه عمر ﷺ شام ته د تللو اراده کړې وه، چې ورته د وباء په اړه خبر راورسېد چې په شام کې وباء د خپرېدو په حال کې ده، نو حضرت عمر ﷺ له صحابه کرامو سره تر مشورې وروسته تصمیم ونیوه چې خپل سفر لغو کړي او بېرته مدینې منورې ته راستون شي، چې همداسې یې هم وکړل.

په دې وخت کې ابوعبیده ﷺ ورته وویل: ((أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ؟))
**یعنې:** آیا تاسو د الله تعالی له تقدیر څخه تېښته کوی؟
حضرت عمر ﷺ په ځواب کې ورته وویل:
((لَوْ غَيْرُكَ قَالَهَا يَا أَبَا عُبَيْدَةَ، نَعَمْ فِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللَّهِ إِلَى قَدَرِ اللَّهِ)). [مسند أبي يعلى جلد:٢ صفحه: ١٥٠].
یعني کاش چې داسې خبره ستا نه پرته بل چا کړې وای، بلې! د الله له تقدیر څخه د الله تقدیر ته تېښته کوم.
کله چې د عمواس طاعون دایره پراخه شوه او د شام زیات خلک یې قرباني شول، چې د هغوی په منځ کې زیات شمېر صحابه کرام ﷺ لکه حضرت معاذ بن جبل د ټولې کورنۍ سره او حضرت ابو عبیده بن الجراح ﷺ چې د هغې سیمې برحاله والي ؤ، هم شامل وو. حضرت عمرو بن العاص ﷺ د هغې سیمې نوي والي، خلکو ته حکم ورکړ چې ښار خالي کړئ:

((إِنَّ هَذَا الطَّاعُونَ رِجْسٌ، فَتَفَرَّقُوا عَنْهُ فِي هَذِهِ الشِّعَابِ وَفِي هَذِهِ الْأَوْدِيَةِ)).[ مسند أحمد جلد:٢٩صفحه:٢٨٨].
یعني دا طاعون ډېر قبیح او پلیت شی دی (دا طاعون د شیطاني هواجسو او وسوسو په څېر دی چې په ډېرې تیزۍ سره خپرېږي)، نو په دې دښتو او خوړو کې ورڅخه تیت او خواره شي.
همدارنګه په دې اړه دده بله وینا هم داسې نقل شوې ده:

((أَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ، قَالَ فِي الطَّاعُونِ فِي آخِرِ خُطْبَةٍ خَطَبَ النَّاسَ، فَقَالَ: إِنَّ هَذَا رِجْسٌ مِثْلُ السَّيْلِ، مَنْ يَنْكُبْهُ أَخْطَأَهُ، وَمِثْلُ النَّارِ مَنْ يَنْكُبْهَا أَخْطَأَتْهُ، وَمَنْ أَقَامَ أَحْرَقَتْهُ وَآذَتْهُ)) .

[مسند أحمد: جلد:۲۹صفحه: ۲۹۱].

عمرو بن العاص رضي الله عنه خلکو ته په خپلې وروستنۍ خطبې کې وویل: دا ډير قبيح او پليت مرض دی (دا طاعون د شيطاني وسوسې په څېر دی چې په ډيرې تيزۍ سره خپريږي) دا د هغه طوفاني سيلاب په څېر دی چې که چا ځان ورڅخه ګوښه کړ، نو ترېنه خلاص به شي او ورته وبه نه رسيږي. او دا د اور په شان دی، نو څوک يې چې په وړاندې ودريږي هغه به وسوځوي او په تکليف به يې کړي.

نو کله يې چې هغه په دې تدبير سره روغ خلک له ناروغانو او مبتلا شويو کسانو څخه جلا کړل، نو څه موده وروسته هغه وباء ژر ختمه شوه.

همدارنګه له شرعي نصوصو څخه په اخستل شويو فقهي قواعدو کې هم په دې اړه تينګار شوی دی، لکه: د ضرر د ازالې او لرې کولو قاعده او همدارنګه د عام ضرر د دفع کولو په موخه د خاص ضرر تحمل کول او داسې نور...

((الضرر يزال)) يعنې هغه څه چې ځان يا نورو ته د ضرر رسولو باعث ګرځي، بايد له منځه يوړل شي.

((يُتَحَمَّلُ الضَّرَرُ الْخَاصُّ لِأَجْلِ دَفْعِ ضَرَرِ الْعَامِّ)). يعنې خاص ضرر د عام ضرر د دفع کولو په موخه د تحمل وړ دی.

((ما يقرب من الشيء يأخذ حكمه)) يعنې هغه څه چې بل شي ته نږدې وي د همغه حکم اخلي.

د پورته ذکر شوو نصوصو او ويناوو څخه ثابتيږي چې دداسې ناوړه مرضونو په وړاندې چې د انسان نفس او سلامتي له خطر سره مخ کوي – چې دا ويروس هم د هغو له جملې څخه دی - د وقايوي لازمو او ممکنو تدابيرو نيول يو شرعي او الزامي امر دی.

او همدارنګه داچې د کرونا بيماري د طب د متخصصو ډاکترانو دوامداره او مسلسلو ګذارشونو په اساس هم يو ساري او بل انسان ته نقل کېدونکی مرض دی او په ډېرې چټکۍ سره خپريږي کېدای شي په ډېره لنډه موده کې ډېر خلک پرې اخته شي، نو ايجابوي چې د زمامدارانو او متخصصو طبيبانو له خوا هغه ورکړل شوې لارښووني او سپارښتنې چې د وقايې او احتياطي تدابيرو په حيث ورکول کيږي، په جدي توګه په نظر کې ونيول شي او عملي شي.

لکه په مکرره او دوامداره توګه په صابون باندې د لاسونو مینځل، د تعفن ضد موادو استعمالول، له ماسک څخه استفاده او په ځانګړې توګه د ازدحام او ګڼې ګوڼې په ځایونو کې د معانقې او مصافحې څخه ډډه کول، له تجمعاتو او یوځای ټولېدلو څخه ځان ساتل، په زکام او هغه ته ورته مرضونو چې ددې ویروس ابتدایي نښې او علامې بلل کیږي د اخته شویو کسانو څخه لرې کېدل. او همدارنګه د هغو ټولو چارو پوره مراعاتول او عملي کول چې د اهل خبره خلکو له خوا یې سپارښتنه کیږي.

دا ځکه چې د نفس د ساتنې او سلامتۍ په موخه یوازې دا نه چې دا طبي سپارښتنې دي؛ بلکې په داسې حالاتو کې د شریعت له نظره هم داسې تدابیر لازم اوحتمي دي او په اړه یې بې غوري ناجائز او ناروا ده. او اړونده چارواکو ته په کار ده چې ددې مرض د لا خپرېدو د مخنیوي په خاطر او د خلکو د حفاظت او سلامتۍ په موخه مخکې له مخکې نه لازم اقدامات وکړي او د هر هغه ټولنیز فعالیت چې ددې مرض د خپرېدو او زیاتېدو لامل ګرځي، مخه ونیسي او د ټولنیز نظم او ژوندانه د نه مختل کېدو لپاره باید ورته بدیلې لارې ولټوي.

## ۲ـ د کرونا په مرض د اخته کېدو او خپرېدو له ویرې د جماعت او د جمعې لمونځونو پرېښودلو حکم.

پورتنیو ذکر شویو نکتو او په ځانګړي ډول د نفس د ساتنې او سلامتۍ اهمیت ته په کتلو سره، د شرعي نصوصو، فقهي قواعدو او د فقهاوو د ویناوو په رڼا کې چې ځنو ته یې مخکې اشاره
نیسي او ممکن د ډیرې مودې لپاره هلته پاتې شي، او له هغه سره د تماس په صورت کې شونې ده چې سالم او روغ انسانان هم لکه ځنګه چې د تنفس له لارې کېدای شي، پرې اخته شي او د طب د متخصصینو د ویناوو پر اساس جوماتونه هم د نورو عامه ځایونو په څېر ددې مرض د خطر له احتمال نه لرې ندي بللي؛ بلکې جوماتونه یې هم د نورو ځایونو په شان ددې ویروس د خپرېدو له ډېرو احتمالي ځایونو څخه شمېرلي دي.

ځکه په داسې حالاتو کې دا له امکان څخه لرې نده چې د جومات په شان له ازدحام څخه په ډکو ځایونو کې چې خلک په ډېر کثرت سره په کې راټولیږي؛ څوک دې په دې مرض اخته نه شي، خصوصا هغه هم په داسې حالت کې چې د طب د متخصصینو د ویناوو په اساس؛ په دې مرض اخته کسان له یوې اوونۍ څخه تر زیاتې مودې پورې په خپل ځان هیڅ ډول علامې او نښانې نهویني او په دومره موده کې په دې مرض اخته شوی کس نشي کولای له خپل مرض څخه خبر شي، چې په دې صورت کې په پنځه وخته لمونځونو او همدارنګه د جمعې په لمانځه کې د یوه لمونځ کوونکي شتون کولای شي دا مرض ډېر خور کړي او د اخته شویو کسانو شمېر یې په لوړه کچه لسګونو ان سلګونو انسانانو ته ورسیږي او ـ الله مه کړه ـ یوه انساني فاجعه رامنځ ته کړي.

نو که چیرې وضعیت داسې وي او د کرونا ویروس خپرېدل میداني حالت غوره کړي، لکه ځنګه چې اوس یې ډېر هېوادونه او سیمې تر خپل پوښښ لاندې راوستلې دي او د طب متخصصین یې هم ومني او له هغې څخه د ځان ژغورنې په مواردو ټینګار وکړي او د هغه د خپرېدو د مخنیوي بدیلې لارې، لکه په جوماتونو کې د ننه او د جوماتونو په چاپیریال کې له هر لمانځه څخه مخکې د مکروب او تعفن ضد دواګانو پاشل او یا داچې جوماتونو ته د مبتلا شوي انسان د نه داخلېدلو په هکله پوره اطمینان حاصلېدل – چې د دوارو کارونو تحقق ډېر ګران دی – شتون ونه لري؛ نو پرته له

شکه دا ډول حالت په کلکه د اندیښنې وړ دی او د شرعي نصوصو، فقهي قواعدو او د فقهاوو د ویناوو په رڼا کې کېدای شي د جماعت او جُمعې لمونځونو د پرېښودلو لپاره د مطلق اکثریت خلکو په ذهنونو کې یو شرعي عذر وګڼل شي او د جماعت په ترک کولو اوپرېښودلو کې ورته هېڅ ډول شرعي ملامتي راجع نشي؛ ځکه د وېرې موجودیت د جماعت او جمعې د لمونځونو د پرېښودلو له عذرونو څخه دی. ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې د جمعې د لمانځه اداء کول له جماعت څخه پرته شوني هم ندي.

په همدې اساس د هغو ښارونو اوسېدونکي چې له داسې حالت سره لاس او ګرېوان وي – او ښارونه یې قرنطین وي او په داسې حالت کې قرار ولري- ددې وضعیت تر پای موندلو پورې باید خپل لمونځونه په خپلو کورونو کې د خپلې کورنۍ سره په جماعت او یا یوازې اداء کړي او جوماتونو ته دې ددې عذر تر پای موندلو پورې له تلو راتلو څخه ډډه وکړي، ترڅو د خپل ځان او نورو خلکو له متضرر کېدلو څخه په امن کې پاتې شي.

البته په هغسې یو حالت کې چې په جوماتونو کې د جمعې او جماعت لمونځونه کېدای شي چې ډېر کم او معدود شمېر خلک پکې ګډون وکړي، لکه امام او مؤذن او یا هغه خلک چې معمولا د جومات له احاطې سره نږدې اوسیږي او یا هغه کسان چې د جومات له چاپېریال او محیط سره شتون لري او له خپلې روغتیا څخه مطمئن او له دې سره سره لازم او ممکن وقایوي تدابیر له هر لمانځه څخه مخکې او وروسته ونیسي، کولای شي د جمعې او جماعت وشوه او ځنو نورو ته یې وروسته اشاره کیږي؛ دادی د پورته ذکر شویو استفتاګانو په ځواب کې داسې لیکو:

د طب د متخصصینو د ویناوو په اساس د کرونا ویروس یو ډول درونډ ویروس دی چې په ځمکه د لوېدو او پرېوتو امکان لري او همدا ډول په هر ځای او هر څه باندې پرېوزي او هلته ځای لمونځونه یوځای اداء کړي.

داچې د پورتني حکم مبنی د مرض او یا یې د نښو او نښانونو موجودیت، یا په دې مرض د اخته کېدو او یا یې د اخته کېدو د احتمال تحقق او د مصلحت په نظر کې نیول ښودل شوي دي؛ بناءً ټول هغه ښارونه چې ددې مرض آثار او علایم په کې موجود او یا احتمال ولري، خو د قرنطین حالت ته نه وي رسیدلی؛ په داسې ځای کې هغه څوک چې هم له خپل صحت او هم نورو خلکو ته د مرض د نه سرایت کېدو څخه مطمئن وي، سربیره پردې مسجد او ورته چاپیریال یې د کرونا مکروب ضد

دواګانو باندې تعقيم او پاشل شوی وي، کولای شي چې جماعت او د جمعې لمانځه ته لاړ شي. او پر هغوی لازم دي چې هم د خپل ځان په هکله په کرونا مرض د احتمالي متضرر کېدو او هم نورو خلکو ته د احتمالي ضرر نه رسولو په هکله – چې د واقع کېدو امکان يې د اړونده متخصصينو او مسئولينو پر باور ډېر قوي او پياوړی دی – د طبي متخصصينو لارښوونو ته هم جومات ته له تللو څخه مخکې او هم د لمانځه په جريان او هم له لمانځه څخه وروسته جدي پاملرنه وکړي او په جومات کې يوازې د فرضي لمانځه په اداء کولو سره بسنه وکړي، له فرض لمانځه هاخوا اودس کول، سنت او نفلي لمونځونه او نور عبادات دې په خپلو کورونو کې اداء کړي، ترڅو وکولای شي په دې ترتيب سره د خپل ځان او د نورو خلکو د ساتنې او حفاظت په موخه ډېر کم وخت په داسې حالاتو کې تېر کړي چې په ډېرې چټکۍ سره بحراني کيږي.

او ټول هغه کسان چې په ځان کې ددې مرض لومړنی نښې او نښانې ويني، يا يې عمر په داسې مرحله کې وي چې د ډاکترانو له نظره په دې مرض د اخته کېدو احتمال پکې ډېر وي او يا هغه کسان چې روغتيايي وضعيت يې ښه نه وي؛ د خپل نفس او د نورو خلکو د نفسونو او ژوندانه د حفاظت په موخه دې، جماعت او جمعې لمونځونو ته له تلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

ډير داسې احاديث او روايات شتون لري چې په ښکاره ډول په پورتني حکم دلالت کوي او ځنو ته يې په لاندې توګه اشاره کيږي:

{ عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ ، أَنَّهُ أَذَّنَ بِالصَّلاَةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَرِيحٍ، ثُمَّ قَالَ: أَلاَ صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِﷺكَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ، إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذاتُ بَرْدٍ وَمَطَرٍ، يَقُولُ: أَلاَ صَلُّوا فِي الرِّحَالِ}

(متفق عليه)

**ژباړه:** نافع له عبدالله ابن عمر - رضی الله عنهما - څخه روايت کوي چې عبدالله بن عمر ﷺ يوه يخه شپه چې شمال هم په کې زيات ؤ اذان وکړ، بيا يې وويل: ((أَلاَ صَلُّوا فِي الرِّحَالِ)) يعني: خبردار! لمونځ په خپلو کورونو کې وکړئ، بيايي وويل: کله به چې شپه يخه او باراني وه رسول الله ﷺ به مؤذن ته امر کاوه، څو له اذان څخه وروسته ووايي: خبردار! لمونځونه په خپلو کورونو کې اداء کړئ.

دا حديث صراحتا په دې دلالت کوي چې يخ شمال او باران سره له دې چې احتمالي ضرر يې له دې مرض څخه څو برابره کم دی، د جماعت د پرېښودلو لپاره عذر ګڼل

کيږي، نو د کرونا په مرض د اخته کېدو وېره په طريق اولی سره د جماعت او جمعې د لمانځه د پرېښودلو لپاره عذر ګڼل کيږي.

دا په داسې حال کې ده چې نور احاديث مشخصا خوف او ډار د جماعت لمانځه د ترک کولو لپاره عذر ګڼې، لکه څنګه چې په لاندې حديث کې راغلي دي:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم- : ((مَنْ سَمِعَ الْمُنَادِىَ فَلَمْ يَمْنَعْهُ مِنَ اتِّبَاعِهِ عُذْرٌ قَالُوا وَمَا الْعُذْرُ قَالَ خَوْفٌ أَوْ مَرَضٌ .لَمْ تُقْبَلْ مِنْهُ الصَّلاَةُ الَّتِى صَلَّى)). [سنن أبی داود جلد:اول. صفحه: ۲۱۶].

**ژباړه:** له عبدالله ابن عباس ﷛څخه روايت دی، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې اذان واورېده او جومات ته په تلو کې يې هيڅ عذر مانع نه شو، صحابه کرامو – رضوان الله عليهم - پوښتنه وکړه عذر څه شی دی؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: خوف او مرض عذر دی، نو هغه لمونځ چې ده اداء کړی، قبول به نه شي.

او دغه د خوف لفظ عام دی او هر ډول خوف او ډار ته شامليږي؛ که هغه له دښمن څخه وېره ده او که له مرض څخه ده او که هغه وېره د انسان نفس او سلامتی ته متوجه وي او که يې مال او اهل ته متوجه وي. او برابره خبره ده چې په ذکر شويو صورتونو کې خوف او وېره خپله ده ته متوجه وي او يا د ده له لوري نورو خلکو ته متوجه وي، شامله ده؛ ځکه د دښمن او مرض دواړو وېره د انسان د نفس او سلامتی په هکله دومره توپير نه سره لري.

فقهاوو ددې حديث او نورو هغو نصوصو په رڼا کې چې ددې موضوع اړوند دي؛ د جماعت د لمانځه د ترک کولو عذرونه او هغه موارد چې خوف او مشقت ته شامليږي، بيان کړي دي. خوف او خاصې سختی او مشقتونه په عمومي توګه د جمعې او جماعت د لمانځه د پرېښودلو د عذرونو له جملې څخه دي. غواړم ددې موضوع د لاښه وضاحت په خاطر د يوه يا دوو مواردو په ذکر کولو سره بسنه وکړم.

په (فتاوی شامي) کې د جماعت د پرېښودلو په هکله داسې راغلي دي:

((أو ظالم يخافه على نفسه أو ماله)). [رد المحتار جلد: څلورم باب الامامة صفحه ۲۲۸].

**يعني:** يا داچې د خپل ځان او يا مال په هکله له ظالم څخه ويره موجوده وي.

او همدارنګه ددې موضوع په اړه په (حاشية الطحطاوي ـ باب الامامة) کې داسې راغلي دي:

((و خوف ظالم اي علي نفسه اوماله او خوف ضياع ماله)). [حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح ص: ٢٠٠].

يعني: يا داچې له ظالم څخه ويره د خپل ځان، يا خپل مال او يا د خپل مال د ضايع کېدلو په هکله موجوده وي.

نو هرکله چې جومات ته په تلو کې انسان ته خطر متوجه وي؛ هغه که ځاني خطر وي او که مالي؛ شرعا عذر ګڼل کيږي او په داسې حالاتو کې د جماعت او جمعې لمونځونو تارک ګنهګار نه شمېرل کيږي او لمونځ ګذاران کولای شي په داسې حالاتو کې مسجد ته له تلو څخه ډډه وکړي.

مګر که څوک په دغسې ساري او مهلک مرض مبتلا وي، عمومي ټولنځايونو او ان جوماتونو ته يې ورتګ چې ددې مرض د خپرېدو او د نورو خلکو د اذيت سبب ګرځي، ناجائز او ناروا دی؛ ځکه دده دا کړنه د نورو خلکو د ژوندانه د خطر سبب ګرځي او دا شرعا ممنوع ده.
کله چې رسول الله ﷺ مسجد ته د هغه چا راتلل چې خام پياز او يا هوږه يې خوړلې وي او په خوله کې يې د هغې بوی پاتې وي، جومات ته به د خلکو د نه متضرر کېدو تر هغه چې د خولې بوی يې نه وي ختم شوی نه ځي، لکه چې په احاديثو کې راغلي دي، سره له دې چې دا دواړه شيان حلال دي، نو بيا مسجد ته د هغه چا راتلل په داسې حالت کې چې نورو ته ضرر رسوي، جواز نلري.

هر کله چې – الله مه کړه – داسې وضعيت پر همدې شکل دوام وکړي او د روژې مياشتې تر راتلو پورې له منځه لاړ نشي؛ نو د هغو دلايلو په رڼا کې چې ذکر شول، لازمه ده چې د روژې په شپو کې هم د ذکر شويو حالاتو او شرايطو مطابق يوازې د لماسخوتن د لمانځه په اداء کولو سره اکتفاء وکړي او د تراويح لمونځونو او په مسجد کې د قرآن کريم له ختمونو څخه دې په داسې بحراني حالاتو کې ډډه وکړي.

## ۳- د کرونا په مرض د اخته کېدو او خپرېدو له وېرې د لمانځه پر وخت د صفونو ترمنځ د فاصلې ایجادولو حکم.

که څه هم د جماعت پر مهال د صفونو د برابرولو او د صفونو ترمنځ د فاصلې د ختمولو په هکله په احادیثو کې ډېر ټینګار شوی چې په عادي حالاتو کې باید په جدي توګه مراعات شي؛ مګر په داسې خطرناکو حالاتو کې چې د طب متخصصین د لازمي فاصلې په رعایت کولو سره په ځانګړې توګه په عمومي ځایونو کې د یوه ضرورت پر اساس سپارښتنه کوي، د دوی سپارښتنه دې خطرناک وضعیت تر ختمېدو پورې ددې مرض د خورېدو ګراف ته په کتلو او د هرې سیمې د حالاتو د توپیر پر اساس، د رعایت وړ ده؛ ځکه ددې حکم مبنی خوف او وېره ده او هغه په دې برخه کې د نورو برخو په شان په موقته توګه د احکامو په تخفیف کې خپل اغیز لرلای شي.

## ٤- د هغه کسانو د غسل، تکفین، جنازې لمونځ او تدفین حکم چې د کرونا په مرض مړه شوي وي.

د هغو کسانو د غسل، تکفین، د جنازې لمانځه د اداء کولو او تدفین په اړه چې د کرونا مرض په څېر په ساري مرضونو وفات شوي وي باید وویل شي، چې که چیرې د طب متخصصین په دې باور وي چې د کرونا مرض له امله د مړو کسانو په وجود کې دا ویروس پاتې کیږي او اثرات يې د سرایت وړ وي، نو په دې صورت لکه څنګه چې په ژوند کې د داسې مریضانو سره هر ډول تماس نیول چې د ویروس د انتقال سبب ګرځي، شرعا ممنوع ؤ همدارنګه له مرګ څخه وروسته هم د داسې کسانو سره تماس نیول چې د ویروس د سرایت وېره موجوده وي شرعا ممنوع دي.

د مړي غسل، تکفین او تدفین پر مسلمانانو باندې د هغه مسلم حق دی، نو پر همدې بناء د مړي د غسل، تکفین او تدفین په هکله باید له هرې ممکنې لارې استفاده وشي ترڅو يې دغه حقوق اداء شي او دا کار د مخصوصو ټیمونو له خوا د مقرراتو او اوصولو په چوکاټ او د لازمو وقایوي تدابیرو په نیولو سره د طب د متخصصینو تر څارنې لاندې او یا د دوی په تأیید سره په مخصوصو ځایونو کې ترسره شي او د دوی له ښکاره اجازې پرته په دې هکله باید هېڅ کار ترسره نشي؛ ځکه په دې هکله هره خپل سرې کړنه د لاډېرو او لویو خطرونو د خپرېدا سبب کېدای شي.

خو باید یادونه وشي چې که چیرې ددې حقوقو اداء کول نورو خلکو ته ددې مرض د سرایت سبب ګرځېدل او په غالب ګمان د دوی ژوند له خطر سره مخ کېده او یا هم – الله مکره – حالات داسې بدلېدل چې د ډېرو مړو له امله دې کارونو ته رسېدنه ناشوني وه، نو بیا په دې صورت کې د شرعي نصوصو او فقهي مسلمو قواعدو په نظر کې نیولو سره د مړي دا حق د نورو خلکو له عهدې څخه ساقط دی او له غسل او تکفین پرته دده دفن کول جائز دي، لکه څنګه چې دا مبارک آیت ورباندې دلالت کوي: ﴿فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ﴾ [التغابن: ١٦].

**ژباړه:** د خپل توان په اندازه له الله تعالی څخه ووېرېږئ.

همدارنګه په دې هکله د رسول الله ﷺ د حدیث په یوه برخه کې داسې راغلي دي:

((وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ)).[صحیح البخاري].

**ژباړه:** کله چې زه درته د یو کار په اړه امر وکړم د خپل توان په اندازه هغه عملي کړئ.

علامه نووي – رحمه الله - د صحیح مسلم په شرحه کې ددې حدیث له روایت کولو څخه وروسته داسې وایي: ((هذا من قواعد الاسلام المهمة ومن جوامع الكلم التي اعطيهاﷺ ويدخل فيها ما لا يحصى من الاحكام)) [شرح النووي جلد:٩ صفحه:١٠٢].

**یعني:** د حدیث دا برخه د اسلام له مهمو قواعدو او د هغو جامعو کلماتو له جملې څخه ده چې رسول الله ﷺ ته ورکړل شوې وې او په دې کې بې شمېره احکام داخلیږي.
په ذکر شوي آیت او حدیث کې په دې ټینګار شوی چې د الله تعالی د ټولو احکامو او قوانینو اداء کول د انسان تر طاقت او توان پورې تړاو لري.
همدارنګه ډېر فقهي قواعد پر دې خبره صراحت لري چې د مشقت او سختی د راګرځندېدو په صورت کې د واجب عمل پرېښودل جواز لري، لکه څنګه چې مخکې ورته اشاره وشوه. او همدارنګه کله چې انسان د دوو ضررونو ترمنځ واقع شي باید آسانه ضرر غوره کړي، لکه څنګه چې مشهوره فقهي قاعده په دې اړه داسې صراحت کوي:

((إِذَا تَعَارَضَ مَفْسَدَتَانِ رُوعِيَ أَعْظَمُهُمَا ضَرَرًا بِارْتِكَابِ أَخَفِّهِمَا)). [الأشباه والنظائر لابن نجيم].

یعني: کله چې د دوو مفاسدو د ترسره کولو ترمنځ تعارض واقع شي د لوی فساد په مقابل کې باید وړوکی فساد اختیار شي. همدا شان یوه بله فقهي قاعده هم په دې هکله داسې

صراحت لري: ((الضرر الأشد يزال بالضرر الأخف)). لوی ضرر په وړوکي ضرر سره دفع کيږي.

په دې دوو قاعدو کې او په لس ګونو نورو قاعدو کې دې اصل ته اشاره شوې ده چې د لوی ضرر دفع کول که د کوچني ضرر په ارتکاب سره ممکن وي، جائز دي او کومه شرعي ستونزه نه لري. او په دې استفتاء شوې قضيه کې هم د مړي د غسل او کفن په پرېښودلو کې مفسده شتون لري، خو د ويروس سرايت چې د نفس د هلاکت باعث کيږي لويه مفسده ګڼل کيږي؛ ځکه دې ته په هغه بله باندې ترجيح ورکول کيږي. او همدارنګه که چېرته د مړو د دفن کولو په هکله مسنون تشريفات په داسې حالت کې د ويروس د سرايت باعث کېدل او د ذکر شويو دلايلو په استناد سره يې نورو خلکو ته ضرر پېښولو، هم ساقط کيږي او د مړي خښول دي له ممکنه لارو څخه چې د مړي کرامت هم پکې خوندې وي او نورو خلکو ته يې هم ضرر ونه رسيږي، ترسره شي.

د همدې نصوصو او فقهي قاعدو څخه په استدلال سره معاصر علماء، لکه علامه شوکاني او دکتور الشهري هم په داسې حالاتو کې د مړي غسل او تکفين ساقط ګڼي، لکه څنګه چې علامه شوکاني رحمه الله په خپل کتاب ((السيل الجرار كتاب الجنائز)) کې ليکي:

((فمن تعذر مسحه خشية أن يتفسخ ثم تعذر صب عليه الماء لذلك فلا غسل له ولا واجب على الأحياء بل يدفن كما هو)). [السيل الجرار ص: ٢١١].

**يعني:** هغه مړی چې د مينځلو پر وخت يې موښل يې ناشوني وي، له موښلو پرته دې اوبه ورباندې واچول شي او که چيرې دا هم ناشوني وي، نو بيا يې غسل ورکول لازم ندي. او دا کار په ژونديو خلکو باندې هم واجب ندی؛ بلکې له غسل ورکولو پرته دې دفن او خښ کړای شي.

همدارنګه دکتور الشهري په خپل کتاب ((احكام المجاهد بالنفس)) کې په دې اړه داسې وايي:

((وإن لم يمكن غسله إلا بإلحاق الضرر بالمغسل، فإنه لا يغسل، وينتقل إلى التيمم إن أمكن، وإلا دفن بحاله التي هو عليها دون الغسل)).

**يعني:** که چيرې مړي ته غسل ورکول د غسل ورکوونکي له متضرر کېدو پرته شوني نه وي، نو بيا غسل نه، بلکې تيمم دې ورکړل شي او که چيرې داهم شوني نه وي، نو بيا دې پرته له غسل ورکولو څخه دفن کړای شي.

او په همدې کتاب کې د هغه مړي په اړه چې په ساري کيمياوي موادو باندې مبتلا شوی وي داسې راغلي دي: (فإن لم يوجد ما يمنع الانتقال فإنه يدفن على حاله). يعنې: که چيرې د لازمو تدابيرو نيول هم د کيمياوي موادو د انتقال مانع نه ګرځېدل، نو پر خپل حالت سره د دفن شي.

ولې د هغه مړو د جنازې په هکله چې د ساري ويرسونو د ابتلاء په نتيجه کې وفات کيږي، بايد وويل شي چې د اړينو او لازمو احتياطي او وقايوي تدابيرو په نظر کې نيولو، د مړي او لمونځ کوونکو ترمنځ د لازمې فاصلې په مراعاتولو او همدارنګه د امبولانس په داخل کې د مړي په ايښودلو سره د جنازې لمونځ پرته له دې چې چاته ضرر ورسيږي، ممکن دی، نو پر همدې اساس لازمه ده، څو د وقايوي او محافظتي وسايلو په کارولو سره پرداسې مړو باندې لمونځ اداء کړل شي؛ ځکه چې د جنازې لمونځ واجب دی او دا له موجه عذر پرته نه ساقطيږي.

په پای کې بايد په لنډه توګه وويل شي چې د قرآني آيتونو، ذکر شوو احاديثو او معتبرو فقهي قواعدو په رڼا کې د ټولو احتياطي او لازمو وقايوي تدابيرو مراعتول چې په اړه يې د طبي متخصصينو - چې په دې هکله اهل الذکر دي - لازم دي او ددې تدابيرو په هکله هر ډول بې تفاوتي او ناديده نيول د ساري مرضونو د خپرېدو او پر نفس باندې د خوف او خطر د موجوديت په صورت کې حرام دي. او همدارنګه هر ډول تجمعات او د غير ضروري مراسمو او محفلونو نيول چې ددې وباء د خپرېدو سبب ګرځي ناروا دي او دولتي چارواکي مکلف دي چې د داسې تجمعاتو مخه ونيسي. او د جمعې او په جماعت سره د پنځه وخته لمونځونو د اداء کولو په هکله بايد ووايو چې که چيرې د دې خطرناک ويروس خپرېدل ميداني حالت غوره کړي او د لازم احتياط رعايت کول لکه څنګه چې ذکر شول چې په جوماتونو کې يې خورېدل ممکن نه وي؛ په داسې حالت کې مسلمانان د جمعې او جماعت لمونځونو ته په تلو کې معذور شمېرل کيږي او په موقت ډول په مسجدونو کې په جماعت سره او د جمعې لمونځونه په ځانګړې توګه په قرنطين شوو ځايونو کې د کم شمېر خلکو لپاره چې له خپل صحت څخه مطمئن وي او د مسجد په چاپېريال کې اوسيږي او يا د مسجد تر څنګ قرار لري، سره له دې چې ټول وقايوي او احتياطي تدابير يې نيولي وي، اداء شي. او په عمومي توګه په هغو سيمو کې چې د خطر سره مخ دي په دوامداره توګه په کورونو کې د لمانځه کولو سپارښتنه وشي او د خلکو لپاره د (صلوا في رحالكم) يعنې لمونځونه په خپلو کورونو او تم ځايونو کې وکړئ، اعلان وشي، ترڅو دا موضوع د خلکو د پوهاوي لپاره ورسول شي.

**والله سبحانه وتعالى أعلم**
**مفتي سيدحجت الله (نجيح)**
**د مجمع علمي رئيس**
**۱۲- ورى- ۱۳۹۹ هـ ش**

## دفتوی خلاصه

**د صادر شوی فتوی لنډیز چې له اصلی متن سره مطابقت لري دلاندی مواردو در لودنکي ده:**

لکه څنګه چې وویل شول د نفس حفاظت د شریعت له مقاصدو څخه دی او ساتنه یې پر انسان فرض ده، نو د خطر د شتون په صورت کې او یا په غالب ګمان د هغه د رامنځ ته کېدو د احتمال په صورت کې؛ وقايوي تدابير نیول او یا د داسې چارو په نظر کې نیول چې د اسبابو په عالَم کې د انسان نفس د مرګ له خطر څخه لرې وساتي، پر انسان واجب دي او پرېښودل یې د ګناه موجب ګرځي؛ ځکه مشهوره فقهي قاعده ده چې وایي: (ما لایتم الواجب إلا به فهو واجب). یعنې هر هغه څه چې پرته له هغه واجب نه ترسره کیږي؛ هغه هم واجب دي.

او په دې برخو کې پر واقعیت ولاړ او د مسلکي اشخاصو نظر او لیدلوری چې په خپل مسلک کې متخصص، مخلص او دینداره وي؛ کاملا د اعتبار وړ دی. او په دې هکله همدوی اهل ذکر ( اهل علم ) دي.

د کرونا ویروس مسئله چې کله متخصصو، مخلصو او ژمنو طبیبانو خطرناکه او هلاک کوونکي وګڼله او په واقعیت کې هم همداسې ثابته شوې ده، نو د هغه په واندې هر ډول سترګې پټول او د هغه په هکله د متخصصینو طبیبانو لارښوونو ته لازمه پاملرنه نه کول؛ په حقیقت کې خپل نفس په هلاکت کې اچولو سره برابر دی چې قرآن کریم په صراحت سره له هغې څخه منع کړې ده. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ وَأَحْسِنُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ﴾ **[البقرة: ١٩٥]**.

**ژباړه:** او خپل ځانونه په خپل لاس سره هلاکت ته مه اچوئ، نیکي کوئ بیشکه الله تعالی نیکي کوونکي خوښوي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي:

﴿وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾ [النساء: ٢٩].

**ژباړه:** او خپل ځانونه مه وژنئ بېشکه الله تعالی پر تاسو مهربانه دی.

د شرعي نصوصو په رڼا کې له شک او تردید پرته ویلای شو چې د ضرورت په ځایونو کې د اړتیا په اندازه د مکروه، حرام، مباح ، واجب او یا فرضو پرېښودل جائز او روا کیږي چې په دې اړه مشهوره فقهي قاعده (الضرورات تبيح المحظورات) یعنې ضرورتونه ممنوع شیان مباح ګرځوي، صراحت کوي. او په شرعي احکامو کې یې بې شمېره بیلګې تر سترګو کیږي. البته ضرورت؛ خپل تعریف، اندازه او ځانګړې شرطونه لري.

د طب د متخصصینو د ویناوو په اساس د کرونا ویروس یو ډول دروند ویروس دی چې په ځمکه د لوېدو او پرېوتو امکان لري او همدا ډول په هر ځای او هر څه باندې پرېوزي او هلته ځای نیسي او ممکن د ډېرې مودې لپاره هلته پاتې شي، او له هغه سره د تماس په صورت کې شوني ده چې سالم او روغ انسانان هم لکه څنګه چې د تنفس له لارې کېدای شي، پرې اخته شي او د طب د متخصصینو د ویناوو پر اساس جوماتونه هم د نورو عامه ځایونو په څېر ددې مرض د خطر له احتمال نه لرې ندي بللي؛ بلکې جوماتونه یې هم د نورو ځایونو په شان ددې ویروس د خپرېدو له ډېرو احتمالي ځایونو څخه شمېرلي دي.

ځکه په داسې حالاتو کې دا له امکان څخه لرې نده چې د جومات په شان له ازدحام څخه په ډکو ځایونو کې چې خلک په ډېر کثرت سره په کې راټولیږي؛ څوک دې په دې مرض اخته نه شي، خصوصا هغه هم په داسې حالت کې چې د طب د متخصصینو د ویناوو په اساس؛ په دې مرض اخته کسان له یوې اوونۍ څخه تر زیاتې مودې پورې په خپل ځان هیڅ ډول علامې او نښانې نه ویني او په دومره موده کې په دې مرض اخته شوی کس نشي کولای له خپل مرض څخه خبر شي، چې په دې صورت کې په پنځه وخته لمونځونو او همدارنګه د جمعې په لمانځه کې د یوه لمونځ کوونکي شتون کولای شي دا مرض ډېر خور کړي او د اخته شویو کسانو شمېر یې په لوړه کچه لسګونو ان سلګونو انسانانو ته ورسیږي او - الله مه کړه - یوه انساني فاجعه رامنځ ته کړي.

نو که چیرې وضعیت داسې وي او د کرونا ویروس خپرېدل میداني حالت غوره کړي، لکه څنګه چې اوس یې ډېر هېوادونه او سیمې تر خپل پوښښ لاندې راوستلي دي او د طب متخصصین یې هم ومني او له هغې څخه د ځان ژغورنې په مواردو ټینګار وکړي او د هغه د خپرېدو د مخنیوي بدیلي لارې، لکه په جوماتونو کې د ننه او د

جوماتونو په چاپېریال کې له هر لمانځه څخه مخکې د مکروب او تعفن ضد دواګانو پاشل او یا داچې جوماتونو ته د مبتلا شوي انسان د نه داخلېدلو په هکله پوره اطمینان حاصلېدل – چې د دواړو کارونو تحقق ډېر ګران دی – شتون ونه لري؛ نو پرته له شکه دا ډول حالت په کلکه د اندېښنې وړ دی او د شرعي نصوصو، فقهي قواعدو او د فقهاوو د ویناوو په رڼا کې کېدای شي د جماعت او جُمعې لمونځونو د پرېښودلو لپاره د مطلق اکثریت خلکو په ذهنونو کې یو شرعي عذر وګڼل شي او د جماعت په ترک کولو اوپرېښودلو کې ورته هېڅ ډول شرعي ملامتي راجع نشي؛ ځکه د وېرې موجودیت د جماعت او جمعې د لمونځونو د پرېښودلو له عذرونو څخه دی. ددې خبرې په پام کې نیولو سره چې د جمعې د لمانځه اداء کول له جماعت څخه پرته شوني هم ندي.

په همدې اساس د هغو ښارونو اوسېدونکي چې له داسې حالت سره لاس او ګرېوان وي – او ښارونه یې قرنطین وي او په داسې حالت کې قرار ولري- ددې وضعیت تر پای موندلو پورې باید خپل لمونځونه په خپلو کورونو کې د خپلې کورنۍ سره په جماعت او یا یوازې اداء کړي او جوماتونو ته دې ددې عذر تر پای موندلو پورې له تلو راتلو څخه ډډه وکړي، ترڅو د خپل ځان او نورو خلکو له متضرر کېدلو څخه په امن کې پاتې شي.

البته په هغسې یو حالت کې چې په جوماتونو کې د جمعې او جماعت لمونځونه کېدای شي چې ډېر کم او معدود شمېر خلک پکې ګډون وکړي، لکه امام او مؤذن او یا هغه خلک چې معمولا د جومات له احاطې سره نږدې اوسېږي او یا هغه کسان چې د جومات له چاپېریال او محیط سره شتون لري او له خپلې روغتیا څخه مطمئن او له دې سره سره لازم او ممکن وقایوي تدابیر له هر لمانځه څخه مخکې او وروسته ونیسي، کولای شي د جمعې او جماعت لمونځونه یوځای اداء کړي.

داچې د پورتني حکم مبنی د مرض او یا یې د نښو او نښانونو موجودیت، یا په دې مرض د اخته کېدو او یا یې د اخته کېدو د احتمال تحقق او د مصلحت په نظر کې نیول ښودل شوي دي؛ بناءً ټول هغه ښارونه چې ددې مرض آثار او علایم په کې موجود او یا احتمال ولري، خو د قرنطین حالت ته نه وي رسیدلی؛ په داسې ځای کې هغه څوک چې هم له خپل صحت او هم نورو خلکو ته د مرض د نه سرایت کېدو څخه مطمئن وي، سربیره پردې مسجد او ورته چاپیریال یې د کرونا مکروب ضد دواګانو باندې تعقیم او پاشل شوی وي، کولای شي چې جماعت او د جمعې لمانځه ته

لاړ شي. او پر هغوی لازم دي چې هم د خپل ځان په هکله په کرونا مرض د احتمالي متضرر کېدو او هم نورو خلکو ته د احتمالي ضرر نه رسولو په هکله – چې د واقع کېدو امکان يې د اړونده متخصصينو او مسئولينو پر باور ډېر قوي او پياوړی دی – د طبي متخصصينو لارښوونو ته هم جومات ته له تللو څخه مخکې او هم د لمانځه په جريان او هم له لمانځه څخه وروسته جدي پاملرنه وکړي او په جومات کې يوازې د فرضي لمانځه په اداء کولو سره بسنه وکړي، له فرض لمانځه هاخوا اودس کول، سنت او نفلي لمونځونه او نور عبادات دې په خپلو کورونو کې اداء کړي، ترڅو وکولای شي په دې ترتيب سره د خپل ځان او د نورو خلکو د ساتنې او حفاظت په موخه ډېر کم وخت په داسې حالاتو کې تېر کړي چې په ډېرې چټکۍ سره بحراني کيږي.

او ټول هغه کسان چې په ځان کې ددې مرض لومړنۍ نښې او نښانې ويني، يا يې عمر په داسې مرحله کې وي چې د ډاکترانو له نظره په دې مرض د اخته کېدو احتمال پکې ډېر وي او يا هغه کسان چې روغتيايي وضعيت يې ښه نه وي؛ د خپل نفس او د نورو خلکو د نفسونو او ژوندانه د حفاظت په موخه دې، جماعت او جمعې لمونځونو ته له تلو څخه په کلکه ډډه وکړي.

که څه هم د جماعت پر مهال د صفونو د برابرولو او د صفونو ترمنځ د فاصلې د ختمولو په هکله په احاديثو کې ډېر ټينګار شوی چې په عادي حالاتو کې بايد په جدي توګه مراعات شي؛ مګر په داسې خطرناکو حالاتو کې چې د طب متخصصين د لازمي فاصلې په رعايت کولو سره په ځانګړې توګه په عمومي ځايونو کې د يوه ضرورت پر اساس سپارښتنه کوي، د دوی سپارښتنه دې خطرناک وضعيت تر ختمېدو پورې ددې مرض د خورېدو ګراف ته په کتلو او د هرې سيمې د حالاتو د توپير پر اساس، د رعايت وړ ده؛ ځکه ددې حکم مبنی خوف او وېره ده او هغه په دې برخه کې د نورو برخو په شان په موقته توګه د احکامو په تخفيف کې خپل اغيز لرلای شي.

د هغو کسانو د غسل، تکفين، د جنازې لمانځه د اداء کولو او تدفين په اړه چې د کرونا مرض په څېر په ساري مرضونو وفات شوي وي بايد وويل شي، چې که چيرې د طب متخصصين په دې باور وي چې د کرونا مرض له امله د مړو کسانو په وجود کې دا ويروس پاتې کيږي او اثرات يې د سرايت وړ وي، نو په دې صورت لکه څنګه چې په ژوند کې د داسې مريضانو سره هر ډول تماس نيول چې د ويروس د انتقال سبب ګرځي، شرعا ممنوع ؤ همدارنګه له مرګ څخه وروسته هم د داسې کسانو سره تماس نيول چې د ويروس د سرايت وېره موجوده وي شرعا ممنوع دي.

د مړي غسل، تکفين او تدفين پر مسلمانانو باندې د هغه مسلم حق دی، نو پر همدې بناء د مړي د غسل، تکفين او تدفين په هکله باید له هرې ممکنې لارې استفاده وشي ترڅو يې دغه حقوق اداء شي او دا کار د مخصوصو ټيمونو له خوا د مقرراتو او اوصولو په چوکاټ او د لازمو وقايوي تدابيرو په نيولو سره د طب د متخصصينو تر څارنې لاندې او يا د دوی په تأييد سره په مخصوصو ځايونو کې ترسره شي او د دوی له ښکاره اجازې پرته په دې هکله باید هېڅ کار ترسره نشي؛ ځکه په دې هکله هره خپل سرې کړنه د لاډېرو او لويو خطرونو د خپرېدا سبب کېدای شي.

خو باید يادونه وشي چې که چيرې ددې حقوقو اداء کول نورو خلکو ته ددې مرض د سرايت سبب گرځيدل او په غالب گمان د دوی ژوند له خطر سره مخ کېده او يا هم – الله مکړه – حالات داسې بدلېدل چې د ډېرو مړو له امله دې کارونو ته رسېدنه ناشونې وه، نو بيا په دې صورت کې د شرعي نصوصو او فقهي مسلمو قواعدو په نظر کې نيولو سره د مړي دا حق د نورو خلکو له عهدې څخه ساقط دی او له غسل او تکفين پرته دده دفن کول جائز دي .

او همدارنگه که چېرته د مړو د دفن کولو په هکله مسنون تشريفات په داسې حالت کې د ويروس د سرايت باعث کېدل او د ذکر شويو دلايلو په استناد سره يې نورو خلکو ته ضرر پېښولو، هم ساقط کيږي او د مړي ښخول دې له ممکنه لارو څخه چې د مړي کرامت هم پکې خوندي وي او نورو خلکو ته يې هم ضرر ونه رسيږي، ترسره شي.